# د خدائي خدمتګار د سالار اعظم خط

اداره

د خدائي خدمتګارانو د سالار اعظم ربنواز خان په اردو کښې د ليکلي شوي يو خط پښتو ترجمه چې د ضلع هزارې د نائب سالار داؤد خان په نامه دے، د پښتون ګرانو لوستونکو ته وړاندې کوو. د کومې نه چې د خدائي خدمتګار تحريک د هغه وخت د هلو ځلو اندازه هم لګېدے شي او دا پته ترې هم لګي چې په هغه وخت کښې د پښتنو ستر مشر باچا خان په څومره منظم ډول دا تحريک چلولو:

دفتر سالار اعظم خدائي خدمتګاران

مرکز عاليه اتمانزو

داؤد خان صاحب، نائب سالار ضلع هزاره

السلام عليکم و رحمة الله.

ستا خط نمبر ۱ مورخه ۲۷-۸-۱۹۳۸ راورسېدو. د هغې په جواب کښې عرض دے چې تۀ زما د هداياتو مطابق د درې واړو تحصيلونو دوره وکړه او د هر يو تحصيل مفصل رپورټ ماته راولېږه خو د خدائي خدمتګارانو د برتي کولو نه وړاندې هغوي ته حلف نامه ضرور اوروه او د هر يو خدائي خدمتګار نه په هغې اصولو د کاربند پاتې کېدو لوظ ضرور اخله. خو ورسره دا خيال هم ساته چې د خدائي خدمتګارانو وردي يو رنګ وي او د ټوپۍ په ځائے دې وردۍ سره پټکے استعمالوي.

ستا د خط مطابق د نائب سالار او باقي افسرانو د نخښو نمونه درلېږلے شي. د کرنېل، مېجر، کپتان، او لفټيننټ نخښې کراؤن او سپوږمۍ به د پيتلو جوړ وي. يو زرګر له اړډر ورکړئ چې د ټولو افسرانو د پاره يو شان نخښې جوړې کړي او د جرنېلانو او نائب سالارانو نخښې به د سپينو زرو وي.

حلف نامې چاپ شوې او تيارې دي. زۀ به ئې د بس واله په لاس ګوهر رحمٰن جرنېل هرې پور ته واستوم هغه به ئې بيا تاسو له درولېږي. د حلف نامو د چاپولو پېسې درې انې د سلو حلف نامو په حساب مونږ ته راواستوئ او تاسو په يوه حلف نامه د يو خدائي خدمتګار نه دوه انې اخلئ. دا پېسې به په خپلو خپلو کلو کښې د خدائي خدمتګارو په فنډ کښې جمع کېږي. خو د تحصيلونو او د ضلعو د دفتري اخراجاتو د پاره به هر يو افسر مياشتنۍ چنده په لانديني حساب ورکوي:

| | |
|---|---|
| نائب سالار | دوه روپۍ مياشت |
| تحصيل جرنېل | يوه روپۍ مياشت |
| کرنېل او مېجر | اتۀ انې مياشت |
| کپتان | څلور انې مياشت |
| لفټيننټ | يوه انه مياشت |

دا چنده به هر يو افسر مياشت په مياشت ورکوي او بيا به د دې جمع شوو پېسو نه تحصيلونو، ضلعو او د صوبې دفترونو ته رقم ورکولے شي. د خدائي خدمتګارانو د فنډ د پاره به چنده په رسيدونو چنده جمع کولے شي او د حلف نامو پېسې به هم هغوي په خپل فنډ کښې داخلوي.

په اتلسم، نولسم او شلم ستمبر ۱۹۳۸ به کوهاټ کښې کانفرنس کولے شي. زۀ به غالباً د دغې کانفرنس نه پس د هزارې دوره شروع کوم. تۀ خپل رپورټ باقاعدګۍ سره رالېږه. رب نواز

سالار اعظم خدائي خدمتګاران صوبه سرحد

نوټ: د خطونو دا مجموعه مونږ ته د مردان انټرمېډيټ او سېکنډري بورډ چئيرمېن فضل محمود صاحب راکړې ده. مونږ د هغوي ډېره مننه کوو.